
د شعرونو مجموعه
دقلم تورہ
(Da Qalam Tora)

د قلم توره

Da Qalam Tora

ډاکتر کبیر ستوری

Dr. Kabir Stori
Kiebitzweg 12
50389 Wesseling
Germany (Deutschland)
www.kabirstori.com
E-Mail: stori@kabirstori.com

د کتاب پیژندنه

د کتاب نوم:	قلم توره
ویناوال:	ډاکتر کبیر ستوری
خپرندوی:	د پښتونخوا د پوهنی دېره، پېښور
چاپ نېټه:	۱۹۹۹ ع
چاپ شمیر:	۱۰۰۰ ټوکه
کمپوز:	ایشیا سافټ، پیښور ـ پښتونخوا
چاپځای:	ایشیا سافټ، پیښور ـ پښتونخوا

د انټرنیټ په مخ

کمپوز : نسیم خان ستوری

ترتیب : ایمل خان ستوری

ډالۍ

خپل دروند مشر د پښتنو ستر لارښود خان بابا (خان عبدالولی خان) چې د پښتنو د يووالي، ابادۍ او خپلواکۍ د لارې رڼا ده او پتمني مشرې نيسم بې بي ته (د قلم توره) ډالۍ کوم.

کبير ستوری

ستوری، خان بابا(خان عبدلوالی خان)اونیسم بی بی

سرلیکونه

سریزه	حمد	پښتنه مینه
ښادي	کرامت	د زوړ نوي قانون
ژوند	جنت	د قام مینه
د اوربل ګلونه	د زړنو ښکار	بې پوهې پوهان
د پښتنون فیصله	د کانۍ کرښې	وروولي
ودي وائي څه شئ دی؟	شریک کور	د مینې دنیا
نیت	د خوښۍ یار	د مینې اظهار
د قلم اوښکې	د اد ب شمله	کم عقل
د امید ځانګه	د مینې ویاړ	یاد
د ښایست مور	خوئ او رنګ	پوهه او سوچ
د خوشحال خان توره	د غزلو اختر	ستر ګو خطا
وحدت	د شونډو رنګ	بې جانان مین
جبر او اختیار	داسمان کانۍ	برخه لیک
غل او مل	حرکت	سوچ د ژبی بنه ده
د اشتهار اصول	ذهني اوښتون	زړونو ته لارې
وار	د باچا خان لار	قناعت
نوی ملالۍ	ادب	سبا وون
د وطن ډاګونه	خندا او ژړا	خپل دود
ښکلا پرست	د ژوندون څراغ	سر ټیټی مشر
د مینې افتخار	قوت	د سوچ ازادي
د قام ننګ	جګې شملې	د ژوند بازار
خیالي نړۍ	د سولې جایزه	ښکلا
د خټو کور	خپل کلتور	د عصر توریالۍ

د مـيـو يـارانه	ښـکلی تمـاشه	د ژونـد سردرې
د يار مـسکـا	د وطن ميـنه	مـيـن
د پـښتنو انـا	د قـلم تـوره	پـيـژنـد
د نـفـاق رنـځ	د مينـې دود	قـضـاوت
دېـره	عـشـق	د قـسـمـت ويـش
ګـلـشـن	د عـشق اور	د مـنـطـق اصـول
فـن د مـيـنـې	د ځواک چـيـنه	پـيـدايښـتی حـق
ژبـه	بـدی	د سـولې جـنډه
خـيـال	هـسـې خواري	نـغـاري
يـو تـبـر	د تـندي خالـونه	د مـيـنـی اور
د شعر فـلسـفـې	خوب	د پـيژند کړ کـېـچ
هـډ	غـيـرت	څـه شـولو ؟
خـوښـنه او مـننه		

دفطرت په خوره غبږ کې چې کله وړومبي انسان سترګی وغړولي نو د خپل (ازلي مزاج) تر مخه یی د کائناتو په هره دره کې د ځان لټون شروع کړو، دغه د خپل ذات لټون د انسان په ژوند کې ناقراري پیدا کړه ځکه نو که د هغه لمن هر څو د جنت د نعمتونو نه ډکه وه ولي بیا هم هغه د " ذات" د تکمیل په ارمان د هغه مېوې د خوراک هڅه وکړه د کومې څخه چې هغه څو څو کرته منع کړي شوي ؤ ، د کانیاتو خالق د غه نافرماني خوښه نه کړه او په ادم ئې د جنت دروازي بندي کړي او دغه رنګ د یو ټاکلي پروګرام مطابق د نړۍ په مخ د انسانیت ابتدا وشوه.

جنت ځاي د تولد تناسل نه وو
د غنم دانه بهانه شوه ؤ بابا ته

دغه هر څه د کائناتو د خالق د هغه لوظ پخلې ؤ کوم چې هغه دوړاندي نه د فرشتو سره کړې ؤ.

ستا له مخه چې ادم راغي دنیا ته
د خالق د عبدیت وعده پوره شوه

ددغه وعدې تکمیل سره سم انسان د خوري وري دنیا په سینه د انسانی ژوند وړمبي" رده "کیښوده.

د ادم (ع) او هوا بچي د وخت سره سره په لر و بر کې خواره شول او چرته چرته چې ټولګي ټولګي اباد شول نو د خپل مخصوصو روایاتو او د خپل ژوند ژواک دانفرادي حیثیت په اساس په بیلو بیلو قبیلو کې وویشلي شول.

دغه قبیلې چې کله نوري لوي شوي نو قامونه شول او بیا قامونو هم د خپل تاریخ، روایاتو، کلتور، ژبې اونسل په لحاظ خپله پیژند ګلوي پیدا کړه.

دغه واړه قامونو د شمیر احاطه کول یقینا چې ډېر ګران کار دې ځکه چې د نړۍ په مخ د اولي ورځې راهیسي د قامونو د جوړښت او بیا د مینځه تلو عمل د مودو راهیسي راروان دې، د تاریخ په پاڼو کې د داسي ډیرو قامونو ذکرشته چې هغوي « نوم » لري ولي « وجود » نه لري. د انساني ژوند د معلوم تاریخ تر مخه چې کومو قامونو د غیرت، توري او میرانې په اساس ځان ګټلي دې په هغوي کې د « پښتون » نوم په ډیر درناوي سره اخستل کیږي، د پت ، ښیګړي، توري، وفا او ننګ دغه سمبول د خپل ازلي مزاج مطابق په مینه کې د ریښمنو نه زیات نرم او په نفرت کې د کانړی نه زیات سخت دې ارواښاد حضرت باچا خان د پښتون ددغه ځانګړي مزاج په هکله دا نظر لري چې پښتون په مینه او دلاسه باندي دوزخ ته بوتلل اسان دي، ولی په زور ئې جنت ته هم نه شی بوتلی.

د یو غیرتي نیکه بچو چې کله دنیا ته د غیرت لاري په ګوته کړي نو هر چا ئې د عظمت اعـــتراف وکړه، تاریخ ګواه دې چې کوم استعماري قوت د پښتون قام « پګړۍ » ته په کړه سترګه کتلي دي نو بیا ئې داسي ماتي خوړلي ده چې په ورسته کتو ئې « سا ه » هم نه ده راکښلي.

آن تر دي چې کله سکندر اعظم د خپل قدرت په نشه کې مست د پښتنو په خاوره قدم کيښود نو ګمان ئې لرلو چې هغه به نړۍ د نورو سيمو په رنګ دا خاوره هم لکه د غوړې نمړۍ د ستوني تېره کړي ولی د هغه نه دا هير ؤ چې دا د « بابا هوتک او امير کروړ خاوره ده» ځکه نو دغه نمړۍ ئې په مړۍ کې بده بده ونښته.

او داسي ونښته چې څو کاله ئې ساه اخستو ته پري نه ښودو، دا هم د پښتنو خاوره وه چرته چې سکندر اعظم د غشي وړمبي او اخري ګوزار وخوړو، دغه غشي د هغه د مرګ سبب وګرځيدو، او چې کله هغه په اخري سلګو کې د پښتون قام د عظمت اعتراف کولو ، نو دا ستعماري قوتونو په زړونو لمبي بليدي او هغوي داسي سازشونو له پاره سوچونه کول کوم چې د پښتون قام د ملی يووالي د ماتيدو سبب ګرځيدي شول دا هم ددغه ارمان د تکميل ارمان ؤ چې فرنګي ته ئې د پښتونخوا لار په ګوته کړه د خپل طاقت په نشه کې د فرنګي سترګي پټې وي، د هغه نه دا هير ؤ چې دلته د غزنوي او ابدالي بچي او د ميرويس بابا د پټکئ ولونه ژوند کوي او دوي ټولو ته د عظيم خوشحال بابا دغه وينا وريا ده ده چې:

لا تراوســـه ئې ماغزه په کرارنه دي
چا چې ما سره وهلي سر په خنګ دی

فرنګي چې د عظمتونو ددغه لوی غر سره خپل خود سره، سر ووهلو نو په وړمبي ځل ورته د خپلي ناپوهۍ احساس و شو، هغه د خپلی دغه تاريخي ماتي د بدل په خاطر بيا بيا په دغه خاوره يرغل وکړو ولي هر ځل ئې په زړه باندي داسي ژور زخم يوړو چې هر، نوي زخم تري زوړ زخم هير کړو.

او بيا چې کله د ميوند په ميدان کې د ملالي يوي ټپي په پښتنه وينه لمبي بلي کړي نو د فرنګي خوله وازه پاتي شوه، هغه دا اعتراف وکړو چې ددي خلکو سره په زور کلي نه شي کيدي ځکه نو د چل ول نه ئې کار اخستل شروع کړل، د پښتون قام ځيني ناپوهه مشرانو ته ئې ددوستۍ لاسونه ورکړل.

د ذاتي ګټو لالچ ددغه مشرانو سترګي ړندي کړي، او چې بيا کله دوي سترګي غړولي نو فرنګي د پښتون قام په هسکه مړۍ باندي په وړمبۍ ځل د تقسيم چاړه راکښلي وه. د زرګونو کلنو يو وحدت، يو وجود ، په مينځ دري ټوټي کړي شو، داسي ټوټې چې ورکې ئې داجتماعي درد احساس هم قتل کړو، او دادی پنځه دبره سل کاله وشو چې دغه د يو نيکه اولاد، دغه د يو کور اوسيدونکي دغه د يو کلتور او يوي ژبې خاوندان د يو بل نه جدا جدا او پردي پردي پراته دي که هر څو پښتون د يو بل نه پردي پردي شو ولي استعماري قوتونه لا اوس هم د دوي په حقونو لوبي کوي، د تيرو دوويشتو کالو راهيسي چې په افغانستان کې کومه لوبه روانه ده يا دلته په پاکستان کې د پښتنو په بنيادي حقونو پوري کومي ټوقي کولي شي دا ټول عمل د هغه سازشونو تسلسل دې د کومو ابتدا چې په کال ۱۸۹۳ ع کې شوي وه.

نن د پښتون قام بنيادي مسئله د ملي يووالي او قامي وحدت ګټل دي او تر څو پوري چې دغه منزل او دغه مرام نه وي تر لاسه شوي د پښتون قام د اجتماعي محرومیانو پريکړه نه شي کيدي ځکه چې کله د سړي وجود نه وي نو هغه د ځان د ګټلو تصور څنګه کولي شي؟

د قامي يووالي د ضرورت ددغه احساس رابيدارولو له پاره ګڼ شمېر قام پرست ننګيالي هلي ځلي کوي چې په دوي کې د ډاکتر کبير ستوري نوم خپله ځانګړي پيژندګلوي لري.

ښاغلي کبير ستوری هغه حساس قام پرست پښتون دي چې کله ئې د شعور په درشل قدم ايښي دې نو د پښتون قام د يووالي ارمان له ئې اوږه ورکړيده، او تر اوسه پوري د همدغه ارمان په تکميل پسې سروهلي بر وهلی ګرځي.

که دغه خبره قام پرست مشر ښاغلي محمد افضل خان (خان لالا) کړي ده او که دغه غږ د حضرت باچا خان د پټکي ول خان عبدالولي خان کړيدې، که په همدغه لار د خان شهيد خان عبدالصمد خان مبارز ځوي محمود خان اچکزي قدم ايښودي دې او که دغه اواز د قبائيلي سيمي نوموړي قام پرست مشر ښاغلي لطيف خان افريدي کړي دې نو ښاغلي ډاکتر کبير ستوری ددغه هر قامي مشرسره خپل غږ ملګري کړي دې دا په دي اساس چې ښاغلي ډاکتر کبير ستوری د يو فکر او يوي نظر ئې ملګري دې هغه د شخصيت پرستۍ باالکل قايل نه دې ځکه نو ټولو قامي مشرانو ته يو شان احترام لري.

د ډاکتر کبير ستوری د ژوند زياته برخه خپلي پښتونخوا نه لري په المان کې تيره شويده، ولي د قاموليۍ بيرغ ئې هلته هم هسک ساتلي دې. او د پښتنو د ټولنيرولسوليز ګوند بنياد ئې په دي غرض ايښي دې چې په بې کوره پښتنو کې د وطن د مينې جذبې سړي نه شي، د خپل مرام د پاره د عملي هلو ځلو سره سره ډاکتر کبير ستوری د شعر په ژبه د ملي يووالي دغه غږ هر چا ته رسول غواړي، دغه شعوري او لا شعوري احساس د ډاکتر کبير ستوری شاعري نوره هم پښتنه کړي ده.

که غواړي ترقي ستوری د قام د وحدت غم خوره
ټوټي ټوټي چې قام وي خپل ژوند نه شي سمولي

ښاغلي ډاکتر کبير ستوری يو سپيڅلی قام پرست پښتون دی ځکه د ژوند په هر قدم ورسره د ويشلي او تاوالا پښتون فکر ملګری دې . دغه غم، دغه فکر، دغه سوچ، د هغه په زړه زخمونه جوړوي، د يو (ټبر) د عنوان لاندې ليکلي نظم ئې د خپل احساس څرګندونه کوي.

يـــو ورځـــې چـــا ويـــلـــي
چـــې اســمـان تـه مـې کـتـلـي

يـــوه غـــټـه وريـــځـه راغـلـه
دوه وړې ئـــې ښـــکـلـــولـــي

وړې شـوې غـــټې کې غـــيـــبـي
بـيـا مـې ســتـرګـو نـه لـــيـدلـي

ښکـارې دا وي کـوچـنـی وريـځی
چـې د مـــور غـــبـرې تـه تـلـلـي

د يـــو کـــور د يـــو ټـبـر وي
د يـــو بـــل نـه ځـارېـــدلـــې

چې هـم جـنـس وی جـمـع کـېـږی
عـــقـــل کـلـه بـــېـلـولـي

په ويـــشـلـي پـــښـتـون قـام ئې
ســتـوري اوښـکـې تـويـــولـې

پښتون ډاکتر کبیر ستوری د خپل شعر په هنداره کې داسي ښکاري لکه چې پښتو نه پرته بل سوچ کول ورته باالکل بې مانا ښکاري.

پښتو ته خداي پيدا کړم پښتونواله مي ژوندون دی
د ژوند په سوکالۍ که مي سر لاړ شي لاړ دې شي

نوموړي مشر د ژوند په هر قدم او هر ه لار د پښتون کلتور په خاپونو پسي له خپله ځانه ورک ورک ګرځي.

ستوری پښتو پښتونولی د ساز نغمو کې نغاړي
د رباب ټنګ پسي د ټول مالت حجري لټوي

تاریخ ګواه دې چې د کومو قامونو نه خپل کلتور اوخپله ژبه هیره شوي وي نو داسي قامونه بیا وختونو هیر کړي دي او داسي ئې هیر کړي دي چې د وجود نښي ئې هم له منځه تللي دي، ډاکتر کبیر ستوری ته دغه احساس شته.

چې خپلي ژبې ته قام پام نه کوی
نو ئې هم دا دورکیدو نښه ده

نو یا دا چې:

د هر قام پیژند په ژبه او کلتور کې
په برکت د ژبې قام هسک شی جګ ږې

چې په خپله پښتو ژبه نه پوهیږي
ستوری څه پرې که په سل ژبو ګړیږي

او په دې شعر کې هم دغه نظر لري.

عـاقـبـت ئې ورکـيـده دي سـتوری وائـې
چې د خـپـل کـلـتـور او ژبـې پـردی کـيـږي

د ارواښاد باچاخان د خدائي خد متګارو د تحريک د ټولو نه لويه معجزه دا وه چې دغه ننګيالو د فرنګي ګولو ته سيني سپر کړي وي مګر د آمن او عدم تشدد لمن ئې پرې نه ښوده، د قصه خواني شهيدان د باچا خان د سياسي بچيانو د تاريخ دد غه خونړی پيښي ګواه دي.
ډاکترکبيرستوری نن هم د امن لار يون د ژوند مقصد ګڼي.

د باچا خان سياسي بچي که ډير ټولي ټولي دي
بيرغ د سولي خو ئې هر ټولی اوچت ساتي

نه صرف په سياسي لار بلکي په عام ژوند کې هم ډاکتر کبير ستوری د امن علمبردار دې.

پـه زور کـلـي کـلـه کـيـږي دا مـتـل دې
اخر نـاچـار د سـولـي پـه لار تـلـل دی

د بخت سـتوری ئې تيـاره نه وي نو څه وي
چې دچا د وروړ عـزيـز سـره فـتـنه شي

څنګه څنګه چې په عالمي سطح د حالاتو بدلون روان دې په دغه تناظر کې د ډاکتر کبير ستوری دا کلک باور دې چې پښتانه به نور تر ډير وخته پوري داسي ټوټي ټوټي نه وي.

پراته بلکي دوي به هرومرو د خپل ملي وحدت مرام ته رسي او د احمد شاه بابا دغه خاوره به یو ځل بیا د پښتونخوا په نامه یاده کړي شي.

د وخت دا تقاضا ده ستوری وائي دا به کیږي
نقشه کې د نړۍ به پښتونخوا نوم لیکل کیږي

د کونړ په روڼ سحر کې ځلیدونکي دغه ستوری که یو طرف ته په خپل زړه کې د پښتنو او پښتونولۍ جذبه په غورځنګ لري نوبل طرف ته په خپله پښته سینه کې یو داسي پښتون زړه هم لري کوم چې د میني په ژبه پوهیږي او دغه پوهي د ښاغلي کبیر ستوری په شاعرۍ کې ټولي ښکلاګاني ځای کړي دي، ځکه نو د شعر په لفظونو کې ئې د حسن نزاکتونه او دخاسیتونو باریکیاني(نازکیاني) ول ول شوي دي.

د تورو زلفو په خیالونو شاعر مه ګرموئ
تمه د حورو هم د شیخ اوږدو سجدو کې ګوري

او دا شعرونه ئې د پښتني مینې ډیر نازک او باریک باریک سرونه چیړي:

ستوری ځکه په پټکي کې دي ټومبلي
چې د یار د شونډو رنګ وینې ګلاب کې

چې نوم ئې راته یاد کړي نو زه هم ورسره مل شم
چې ستا صفت خلاص نه وي ځان تري کله بیلوم

د زړه نه زړه ته لار شته په دي هر څوک نښه پوهيږي
چې زه وايم دا ستا يم ته به هم وائې زما ئې

د پښتون ستوری عشق هم پښتون دی چې وائي:

تا چې رنګ د پښتونوالي عشق ته ورکړو
پښتنه مينه مي لا پسي توده شوه

د خپلی خاورې او خپلی علاقې سره مينه لرل د هر انسان په خټه ابنکدل شوي دي، که د خپل هېواد نه لري څوک هر څومره د ژوند اسانۍ او سهولتونه ولري خو چې کله هم يواځي کښيني نو دوطن يادونه ئې د زړه تارونه ضرور چيړي که احمد شاه بابا د ډيلي په رنګينيو کې د خپلې پښتونخوا غرونه يادول نو ډاکتر کبير ستوری هم په المان کې د خپل پلار نيکه وطن کونړ له ياده نه شي ويستي او په يادونو کې ئې ساده ګي او بي سا ختګي داسي په غور ځنګ ده:

ميخانه وترې راځه د ګودر غاړې ته ځو
نشه د ميو خو کونړ د سيند اوبو کې شته دی

د ډاکتر کبير ستوری د سوچ او فکر حدونه يقيناً چې ډير ژوردي، دوي د قلم په توره د بي حسه اوده پښتون ضمير بيدارول غواړي او دهغه خوب رينتيا کولو په غرض د عمل پيغام خپرول غواړي. کوم خوب چې اروابنداد (باچا خان لیدلي ؤ) د غه خوب د پښتون قام د ملي يووالي او قامي وحدت خوب ؤ، دغه خوب د پښتون قام د خپلواکۍ او د سيالو سره د سيالۍ تللو خوب ؤ .

دغه خوب د پښتون اولس د ټولو محرومیانو او نیمګړتیاو د مینځه تللو خوب ؤ، د حلاتو بدلون دا زیري راوړي چې د باچا خان دغه خوب او د بې غرضه، بې لالچه قام پرست پښتون ډاکتر کبیر ستوری دا د مودو مودو ارمان به ډیر ژر د امید نه د یقین په درشل قدم کیږدي، انشاءالله. زه دا خپله لیکنه د ښاغلي ډاکتر کبیر ستوری په دي شعرونو راغونډوم!

حرکت کې برکت شته دی دا متل دې
له وده زمري ګیدړ نه، چې خوځیږي

د منزل په لور ګامونه ګړندي واخله
ای پښتونه قافلې درنه تیریږی

چې د ځان د بدلولو خیال ئې نه وي
خدای هغه قام بدلوی نه، نه بدلیږي

د وروری او اتفاق لاسونه ورکړی
چې سبا د اسمان ستوری وځلیږی

په درناوي

لایق زاده لایق
د پښتونخوا د پوهنې د دیرې مشر

حمد

د لـوی خـدای پـه نـوم بـښـوونـکـی او مـهـربـان دی
پـــه عـــزت، ذ لـــت، قـــادر دهـــر انـسـادی

چې ځـوک وغـواړي پـه یو ساعت کـې بـاچـا کـړي
چې ځـوک وغـورځـی د تـخـت ځـنـې روان دی

نـــه د چـــا ځـــنـې پـــیـدا نـــه د چـــا پـــلار دی
دی یـــوازې خـــو مـــحـــتـاج ورتـــه جـــهـان دی

خـــدای دهـــر چـــا پـــه ښـــه ، بـــد عـــمـل خـــبـر دی
خـــو یـــې واک د ښـــه او بـــد عـــمـل د ځـــان دی

خدای پـه هـر وخت او پـه هـر ځـای کـې حـاضـر دی
کـــه دا ځـــمـکـه ده کـــه ستوری د اسـمـان دی[1]

---

۱) ددې حمد کره برخه د قرانکریم څخه اخیستل شوې ده، پر تله (مقایسه) کړی سورت ال عمران او سورت الاخلاص

پښتنه مينه

زړه مې د مينې دود پالل غواړي
په وطن سر خپل زارول غواړي

شيخ خو د مينې عبادت جوړ کړ
حوري ېې عقبا کې ښکلول غواړي

پښتانه مينه بې پښتو نه کوي
مينه د ننګ سره تړل غواړي

ستوری د عقل نه پوښتنه وکړه
پښتنه مينه پښتو تل غواړي

کرامت

چا ته ژوندون دی چا ته قيامت دی
چا ته دوزخ دی چا ته جنت دی

څوک ويښوي څوک ابدی ويده کړی
د ستوری شعر کې دا کرامت دی

بنسادي

د نوي ژوندون پيل دي په خوښۍ شه معطر
واده دي مبارک شه کور دی ګل شه سراسر

واده د مينې او وفا ترون دی
يوه پټ راز د محبت پروت دی
د انساني ژوند د بقا ترون دی
يوه ددي نړۍ زينت پروت دی

دا کور دي د بنادۍ شي دقامي پېژند سنګر
واده دي مبارک شه کور دی ګل شه سراسر

دي کور کې دي پيدا شي ننګيالي پتمن ځلميان
چې د پښتون سياسي تاريخ ژوندي شي
د توري د قلم او د مېړانې خاوندان
چې د قامي وحدت کاروان ګړندی شي

چې شپه د ژوند سبا شي رون شي ستوري د سهر
واده دي مبارک شه کور دی ګل شه سراسر

دا شعر ما د پښتو قامي ادبي جرګې پتمن شاعر عزيز سرشار ته ډالۍ کړی دی ټولو هغه پښتنو ځلميانو او پيغلو ته سوغات هم دی چې په پردي مالت کې يوبل سره ودونه کوي او په دې توګه خپله ژبه او کلتور (کلچر) ژوندی ساتي.

د زوړ نوي قانون

د زوړ نوي قانون دلته ښکارېږي نا اشنا
چې نوي ښه له زوړه وي او زوړ کاندي فنا

دا زوړ ښه دی له نوي او که نوي ښه له زوړه
اوس دا پوښتنه هر چېرې ، هر ځای کې ده پیدا

ټولنه باغي شوې ده دودونه دي مات شوي
څه دي او څه به کېږي دا ده غټه معما

روانې قافلې چې دي د ستورو په رڼا کې
ښکارېږي چې جوړېږي زمونږ لو یه پښتونخوا[1]

---

۱) د زوړ نوي قانون منطقي (ډیالکتیکي) اصول دی چې نوی د زوړ ځای نیسی خو پدې شرط چې نوی د زوړ څخه ښه وي.

ژوند

د پښتون ژوند په پښتو باندې پتمن دې
بې پښتو چې شی لایقه د کفن دې

چې پښتون وی بې پښتو ژوند کوی نه شی
ستوری وائی پښتو سا او پښتو تن دی

جنت

چې پښتو دوزخی بولی مخ ئی توردی
په پښتون باندې حرام د دوزخ اوردی

دوزخ ئی په ویلو جنتی شی
د پښتو ژبی جنت کې کلی کوردی

د قـــام مـــينه

پـــه لـــفـــظـــونـــو ئـــی تـــصـــويـــر انـــځـــورومـــه
څـــو خـــيـــالـــونـــه ئـــی د ســـره زارومـــه

چـــې د قـــام د مـــينی يـــاد پـــکـــی خـــونـــدی کـــړم
خـــيـــال تـــه رنـــګ د زړه د ويـــنـــو ورکـــومـــه

چـــې تـــوان دا تـــفـــاق پـــښـــتـــون پـــيـــدا کـــړی
او ســـيـــاســـی پـــيـــژنـــد خـــپـــل قـــام تـــه وګـــڼـــمه

صـــدقـــه او ســـپـــېـــلـــنـــی چـــې لـــه خـــپـــل قـــام شـــم
بيا پـــه مـــرګ مـــې پـــروانـــه شـــتـــه کـــه ومـــرمـــه

چـــې جـــنـــډه د پـــښـــتـــون جـــګـــه تـــر اســـمـــان شـــی
ســـلامـــی تـــه ئـــی زه ســـتوري ودر ومـــه

د اوربـــل ګلونـــه

دهـــر چـــا ده خپلـــه خوښه، چې څه وائی هغه دی وائی
یو پوخ د مینی خیال دې چې د یـــار کـــور تـــه مې بیائی

باغـونه د ګلـــونـــو د کـــوڅـــو نـــه دی جـــوړ شـــوی
ولاړ دی ســلامـــی ته او د جـانـــان لار راتـــه ښـائـــی

څـه ښکلې تـمـاشـــه ده د رنـــګـــونـــو د ګـلـــونـــو
دا زړه پـــکـــې د څـنـهـو د اوربـــل ګـلـــونـه ستـائـی

دا مـــیـنـه ده دنـیـا کـــې ښـــایـــســتـــونـه جـــوړوی
په څـه چې زړه مـیـن وی هغـه ښکـلـې وی زیـبـا ئـی

دا مـیـنـه بـه ژوندی وی عـاشـقـانـو کـه مـوړمـړه یـو
دا اســتـوری خـو د مـیـنـې د مـا ښـام هـم د سـبـا ئی

د زړو ښکار

د یورپ پیغلو بیا ځان کړلو سینګار
چې د زړونو د مینو وکړي ښکار

خوږې زلفې ئې دامونه ندی څه دی؟
چې نظر پکې ونښلی، شی ایسار

چې ئی سترګې پدې پیغلو پر بوتلی
شیخ سجدې ته ښکته نه شولو دوبار

د زاهد، عابد ایمان ته دی خدای خیر کړی
چې ئی پېغلې د یورپ نکړی بې لار

د یورپ پېغلې اثر په ستوری نه کا
چې د عشقه د وطن نه دی وزګار

بې پوهې پوهان

چې ځان د چا نه ورک شی نو خپل ځان نه پېژنی
ګیله تړې څه پکار ده چې جهان نه پېژنی

بی پوهې ځان پوهان کړی او د ټول جهان باچا شی
د ځان نه جګ باچا او یا پوهان نه پېژنی

بی توله کښینی تول د ارزښتونو د جهان کړی
تو پیر د شنو باغونو او بیابان نه پېژنی

په تول د سړیتوب هېڅ نه پوهیږی لیونی شی
انصاف او عدالت، حق د انسان نه پېژنی

درمل ورته د عقل ستوری ورکړه چې په سد شی
سري شونډی توری زلفی د جانان نه پېژنی

د پښتنو فیصله

پښتون فیصله وکړه دې کی بله نه ځاپېړی
دا خاوره د پښتون به پښتونخوا په نوم یاد پېړی

دا حق د هر یو قام دی چې پخپله نامه ئی ملک وی
او ژبه ئی د ملک په دفترونو کی چلیږی

تر څو چې پښتانه او پښتونخوا وی ویشل شوی
نو امن منطقه او په نړۍ کې نه ټینګېږی

دامن له خاطره دا ویش نور نه پاتې کیږی
دا واړه پښتانه به یو مرکز باندې ټولیږی

د وخت دا تقاضا ده ستوری وائی دا به کیږی
نقشه کې د نړۍ به پښتونخوا نوم لیکل کیږی

د کانې کرښې

غـــمازان ګـرځـی بـیـد یـا نـشـی د پـــردې خـبـرې
کـــور تـه مـــی راشـــه چـې ارام وکـــړو اوږدې خبرې

قـانـــون د عـشـق کـی د تـرخـو خـبـرو نوم نشته دی
تـرخی هم ښکاری عـا شـقـانـــو تـه خـــوږی خبرې

د سپـبـلـنو خـیـالـی انځور به دی لـه سرکـړم لـوګـی
چـــې لـه نـظـــره نـــه شی سـتا درنـــې پـخـې خبرې

د کـونـړ ســتـوری چې پـه مـیـنـه درتـه غـوږ نیولی
د کـانـــی کـــرښې دی منمه ستا د خـولـی خـبـــرې

ودې وائې څه شئ دی؟

لامـــبـو وهـــی اوبـــو کـې هم پـه ځمکه ګرځیدی شی
ښـایـسـتـه وزر لـــری او پـه هـــوا کـــې الـوتـې شـــی

لامبو او الـوتـل او ګـــرځـــیدل ئـی ســتوری زده دی
ودی وائـــی څـه شـــئ دی ځـــواب کـــه راکـــوې شـــی

ورولي

وختونه ځی تېریږی تاریخونه پاتې کېږي
واکمن خوتل بدلېږی اولسونه پاتې کېږي

واکمن چې واک د پاره اولسونه جنګوي
تاریخ کې د اولس ئی بد نومونه پاتې کېږي

تاداو د سوکالی د اولسونو ورورلي ده
د ژوند د پر مختګ دا بنیادونه پاتې کېږي

ای ستوری شاعري دي خدایګو عمر زیاتوي
ژوندي دي په شعرونو کې خیالونه پاتې کېږي

شریک کور

که ادب، سیاست، هنر شریک کړی کور
او د پوهې په اوږه ئی کړی څوک سور

خوزولې پرګنې شی ستوری وائی
اتفاق او په وحدت کې پروت دی زور

د مینې دنیا

د زور زیاتي دښمن دی او د سولې نه ځاړې
بس دا ئی فلسفه ده او پدی اصول چلیږي

په سوله، سوله غواړی دا خو تل دی ده ویلي
په سوله او خبرو کار د بیخه نښه سمیږی

چې سولې ته وطن او منطقه کې خطره وی
د سولی د خاطره هم د جنګ سره جنګیږی

دا ستوری چې نارې د محبت او وروروللی کړي
دنیا د مینې غواړی ظلم زور ئې نه خوښیږی

نیت

نیت دی زیری د بری د هر یو کار
د خدای لمونځ ته هم اول نیت دی پکار

چې دی نیت د پښتونخوا د جوړوو دی
ستوری خدای دی شه ملګری او مددګار

د خوښۍ یار

د خوښۍ او خوشحالۍ یاران بې شمار وی
یار هغه دی چې په سختۍ کې پکار وی

چې په سختۍ او تنګسه کې دی مل نه وی
ستوری څه پرې چې سکه ورور دی د پلار وی

د مینې اظهار

څوک لباسی ټیټ پاس کوی مخلص کېدلی نه شی
څوک د لباس تومنه اخلاص کې ګډولی نه شی

څوک د اوبو په شان د هر یو لوښی بڼه نیسی
څوک لکه تیږه خپله بڼه بدلولی نه شی

څوک حرکت کوی روان وی د منزل په لوری
څوک هسې لاس د زنې ناست وی خوځېدلی نه شی

څوک د لیلا مینه کې دار ته ځی په دار ورخېژی
څوک تش په خوله اظهار د مینې هم کولی نه شی

څوک به څه وی، څه به کوی دا به همدلته پرېږدو
ستوری پښتون دی له پښتو نه تېرېدلی نه شی

د قلم اوښکې

د انسان فکر او خیال که هر څو دنګ دی
ستا د حسن د تصویر د پاره تنګ دی

ستا ښکلا د خیال ورشو کې نه ځاپرې
سوز د مینې کې دی پروت خمار د بنګ دی

ستا د مینې په مستۍ کې مې زړه ځوان شو
زما وینه کې دا ستا د شونډو رنګ دی

د ناصح نصیحت نه مې زړه نه اوری
لګېدلی چې پری ستا د پاولو شرنګ دی

د قلم اوښکې جرګه به درلېږمه
د جرګې مخ او خا طرد پښتو ننګ دی

دکمخونه جوړ پاتان[1] که ! چې در خېژم
د اسمان د ستورو کټ چې دی پالنګ دی

---

۱) زینه، اندرپی ، پوړی

د ادب شمله

نفاق او تربګنې به پخپل منځ کې ورکوو
که لوړې جګې څوکې ته د ژوند ځان رسوو

قاموني په ادب او په پوهنې پر مخ تللې
ډیوه به د پوهنې ځان او قام ته بلوو

جامې د موسیقي چې ادب واغوندي ژوندی شي
ادب به ټنګ ټکور او له پښتو، نه بېلوو

لنډۍ او شعر دواړه دادب د خیال شمله ده
شمله به د ادب د ساز نغمو کې جګوو

ادب په زړه کې واچوی احساس د قاموليِ
ناره به د پښتو پښتونولیِ پورته کوو

چې رونړ د پښتو ستوری شي په لویه پښتونخوا کې
اختیار د خپلې خاورې او وطن به خپلوو

کم عقل

مـا چـې وکـتـل دې ګـرد چـاپـېر جـهـان تـه
هـېڅـوک نـه وائـی کـم عـقـل خـپـلـه ځـان تـه

کـم عـقـلانـو تـه هـوښیار کم عـقـل ښکـاری
خـدای دې ورنـه کـړی کـم عـقـل دوست انسان ته

افـلاطـون او سـقـراط بـه درنـه هـېر شـي
که ئې غـوږ شـي صـرف یـوه شـېبـه بـیـان تـه

تـوپـیـر ورک دی د طـبـیـب او لـیـونـي
لـیـونـیـان، لـیـونـي وائـی سـاپـوهـان تـه

هـر سـړي تـه ځـان د بـل نـه هـوښـیـار ښکـاري
ځـکـه سـتـوری تـړې نـه و خـاتـه اسـمـان تـه

برخه لیک

خـپـلـواکـې د خـپـلـو ویـنـو پـه بـیـه اخـلـم
ژونـد مـانـا پـیـدا کـوي چـې ازادي وي

د ازل د بـرخـه لـیـک نـه بـه بـاغـي شـم
کـه زمـا سـتـوري پـه بـرخـه غـلامـي وي

د امید څانګه

جالـه کـه جـوړه دیـدن زر د سیند څـپو کـې راوړه
د کشمالو خوشبوي د څنو پـه وړمـو کـې راوړه

د امـید څانګې غوټې کړې نـن سبا بـه ګل شي
لـرې اوبـه ورتـه ګـودر نـه پـه منـګـو کـې راوړه

پـه ستر ګو نه وینم به غـوږ ئـې اورېـدلـی شـمـه
پـه لیک کې مه راوړه پیغام د ساز نـغـمو کې راوړه

کـه سـتوری وویـنـې زمـا ورتـه ځـواب ووایـه
د نوي ژوند مستي د بنګو په پـیـالـو کـې راوړه

غل او مل

چـې د غـل سـره مـل کـورنـه پـکـې نـه وي
نـو مـشـکـلـه غـلا کـول د کـور ودان شـي

سـتوری لا سـتی کـه د ونـې پـکـې نـه وي
نـو د ونـې غـوڅـول تـبـر تـه ګـران شـي

د مینې ویاړ

ویاړ به دې د مینې خامخا ځان ته ګټم
که سر وربانديې درکم باقي نور به څومره شم

چې نوم دې راته یاد کړي څوک نو زه ورسره مل شم
چې ستا صفت خلاص نه وي ځان ترې کله ببلوم

چې چېرې په کوم ځای کې ننداره ستا د ښکلا وي
په ځمکه که هوا وي ځان دستي وروسوم

جذبه ده دا د مینې که د عقل دلیلونه
له خپله سره تېر شوم ستا له سر، سر ځاروم

رنګونو د ګلونو کې دي رنګ د شونډو ګورم
د ستوري په قلم لفظي انځور دي جوړوم

خپل کلتور

هره ځانګه خپله ونه کې لوئېږی
چې له ونې ځانګه غوڅه شی وچېږی

عاقبت ئی ورکېده دی ستوری وائی
چې د خپل کلتور او ژبې پردی کېږی

یـــاد

چـــې د عـــشـــق پـــه مـــيـــو مـــســـت مـــې کـــړ غـــزل
يـــــاد دي ښـــــکـــــلـــــی شـــو د څـــنـــو د اوربـــــل

حـــاجـــت نـــلـــرې چـــې څـــنـــو کـــې ئـــې کـــېـــږدې
چـــې لـــه ګـــل ځـــنـــې ښـــايـــســـتـــه ئـــې يـــو پـــه ســـل

چـــې خـــبـــر دي لـــه ښـــاســـت اولـــه ښـــکـــلا شـــو
رنـــــګ بـــــدل شـــــو د ســـــنـــــدرو د بـــلـــبـــل

ســـتـــوری وائـــي زړه کـــې نـــوی مـــيـــنـــه زور شـــوه
ګـــل ئـــي پـــرېـــښـــود ســـتـــا پـــه لـــورې الـــوتـــل

د ښايـــســـت مور

مـــيـــنـــه مـــور ده د ښـــايـــســـت کـــه څـــوک پـــوهـــېـــږي

پوهه او سوچ

خپلې پوهې برابر سوچ دانسان وي
د لوړ سوچ دخاوند انو لوړ ارمان وي

ناپوهۍ نه غټ دښمن د انسان نشته
ناپوهانو ته جهان پېژندل ګران وي

تل د ځان په هنداره کې جهان ګوري
د خپل سوچ په اندازه ئې تنګ جهان وي

ځان جهان په ائینه کې پوهان وینې
رسولي ځان تر ستورو د اسمان وي

د خوشحال خان تورہ

پـه خـوښـه نشي له غـاصب حـق اخسـتـل دي پـکـار
د حـق لـــپـاره ســر لـــه حـقـه ځـارول دي پـــکـار

چې ظـلـم ورک شـي او ګلان د انـصاف وغـــورپـــږي
پـــه اور د ظـلـم کـې ظـالـم خـپـلـه سـبـزل دي پکار

کـمـزوري نـه يـو امـتحان مـوخـو ځـل ورکـــړي
د خوشحال خان تـوره لـه تـيکي راويستـل دي پکار

چې زورِ مـو ځـوان شي او ځـواني مـو په مستۍ راشي
پـه يـو مـرکـــز بـانـدې د ټـولـو ټـولـبـد ل دي پکار

خـوب د مرګ ورور دی لا تر څو به مونږ اوده پاتې يـو
کـه ژوند ون غـواړو نـور د خـوبـه پـاځـبـد ل دي پکار

د سـبـا ستـوری راخـتـلـی دی پـښـتـون تـه وايـي
د خـوبـــه پـاځـه د مـنـزل پـــه لـــوري تـلـل دي پـکـار

د غزلو اختر

تا چې د مینې د وطن نه غزلونه جوړ کړل
د فن شاهکارو تري د غاړې امیلونه جوړ کړل

رنګ رنګ غزلې ئې د زلفو تار کې وپیلې
د ساز نغمو کې له غزلو داستانونه جوړ کړل

د رباعي، غزل، داستان حد بندي ماته کړله
د هنر غبرګې نوي نوي خوزښتونه جوړ کړل

چې د داستان جامې د ستوري غزل واغوستلې
د ژوند چمن کې د غزلو اخترونه جوړ کړل

د سترګو خطا

کـه پـه جـاز کـې څـوک اسـمـان ته پـورته کـېږي
دا د زمـکـې خـلـک کـوچـنـي ورتـه ښکـاږي

دا خـــطـا د ســترګـــو ده، د عـــقـل نـــه ده
عـقـل وايـي غـټ انـسـان، نـه، کـوچـنـی کـېږي

جـګـېـدو کـې احـتـمـال د تـيـتـېـد و شـتـه
پـوه بـه هـلـه شـي چـې جـاز کـنـدې تـه لـوېـږي

جـګـېـدو کـې چـې ځـان ورک نـه کـړي جانـانـه
کـــه دي ســـر دا اســـمـان ســـتورو تـــه رسـېـږي

وحدت

دا دنـيـا خـو يـوځـو ورځـو تـه پـيـدا ده
ابـدي ژونـد تـه ټـاکـلـې خـدای عـقـبـا ده

د دنـيـا پـه سـر د ژونـد پـولـه ده تـنـګـه
پـيـدا شـوې تـرې ابـد ژونـد تـمـنـا ده

د مـادې او د مـانـا وحـدت ژونـدون دې
مـاده تـن دی دانـسـان او مـانـا سـا ده

سـا چـې ووزي لـه تـنـه وحـدت ورک شـي
سـتـوری پـربـوزي د ژونـد د مـرګ بـيـنـا ده

د شونډو رنګ

چې لاهو شي څوک د مینې په دریاب کې
تو پیر ورک شي په راحت او په عذاب کې

هر عذاب د یار خدمت کې راحت ښکاري
عذاب نشته دی د مینې په کتاب کې

درخانی چې ورته بام سر ته خټله
سوز د مینې شته تارونو د رباب کې

ستوري ځکه په پټکي کې دي تومبلي
چې د یار د شونډو رنګ وینې ګلاب کې

بې جانان مين

چې څوک مئ د مينې وځکې مست خمار شي
د بلبل سره شي مل عشق ئې روزګار شي

چې جانان ئې غېږ کې پروت وي بې پروا وي
بې جانان مين عابد او پرهېزګار شي

په مستۍ او په خوښۍ کې له یاد وځي
خدای هله د سړي یاد شي چې ناچار شي

د جانان په تمه پروت شیخ په سجده دی
ستوری وائي پاک الله دې مددګار شي

جبر او اختيار

دا دي جبر که انسان ته شته اختيار
چې ليکلي په ازل کې خدای هر کار

که دا جبر وي بيا حق د سزا نه شته
څوک په څه شي ملامت او ګنهګار

که اختيار وي بيا سزا د ګناه حق ده
چې حساب وشي د هر عمل کردار

ما پوښتنه پدې باب له استاذ وکړه
منطقي ځواب ئې راکړ سم دوار

خدای اختيار ستوری انسان ته دي ورکړي
خو ئې مخکې له هر کار دې خبردار

داسمان کانې

د مـيـنې د وطـــن نـه مې زړه ځـان نـه بـــبـلـــوي
لګـيا دي خـپـل تـوتـي تـوتـــې وطـــن را تـولـــوي

تـــوتـــې چې يو ځای نـه کـړي هـومـره نـه کـيـني ارام
د ســر او مـــال پـــه بـــيـه دا تـوتـــې کـوشـــيـروي

چې مينه د وطن کې مې زړه وريت شو پوخ سرتېر شو
روان دي ســربـــازی ته ځـــان وطـن نـــه ځـــاروي

پـه مـيـنه د وطـن کې ستـــوری وخـاتـه اسـمان تـــه
وګـــوره پـــه غـــلـــيم لـــه اســـمـــان کـانـې وره وي

حرکت

هـــوښـــيـــاران چـــې د ژونـــدون پـــه راز پـــوهـــېږي
حـــــرکـــــت کـــــوي روان وي نـــــه ودرېـــــږي

حـــرکـــت کـــې بـــرکـــت شـــتـــه دی دا مـتـــل دې
لـــه وده زمـــري ګـــيـــدړ ښـــه، چـــې خـــوځـــېږي

د مـــنـــزل پـــه لـــور ګـامـــونـــه ګـړنـدي واخـلـه
ای پـــښـتـونـــه قـــافـــلـــې درنـه تـــېر ېـــږي

چـې د ځـــان د بـــدلـــولـــو خـــيـال ئـــې نـــه وي
خـــدای هـــغـــه قـــام بـدلـــوی نـه، نـه بـدلـېږي

د وروری او تـــــفـــــاق لاســـــونـــــه ورکـــــړی
چـــې ســـبـــا د اســـمـــان ســـتـــوری و ځـــلـــېږی

---

۱) ددې شعر څلورم بیت د قرانکریم د ۱۳ سیپارې د سوره الرعد ، د (۱۱) ایت شریف مانا ده.

سوچ د ژبې بڼه ده

چا ویل تش د پوهېدو نښه ده؟
ژبه د قام د پېژندو نښه ده

سوچ هم د ژبې یوه بڼه ښکاری
ژبه د سوچ د لوئېدونښه ده

چې خپلې ژبې ته قام پام نه کوی
نوئی هم دا د ورکېدو نښه ده

بې ژبې قام وده کولی نه شی
ژبه د قام د پرمختللو نښه ده

ستوری پښتو باندې پښتو په کار ده
په ژبه ننګ د ننګیالو نښه ده

د اشتهار اصول

چې مینه د چا زړه کې وي نو مینه به پالي
مین ددې حقدار دې ، مین ددې حقدار دې

چې سر څوک د خپل قام او دوطن نه ځاروي
نصیب ئې افتخار دې، نصیب ئې افتخار دې

منمه چې هر چا ته لیلا خپله ښایسته ښکاري
صفت ئې هم پکار دې، صفت ئې هم پکار دې

پردې ته به بد نه وایي او خپله به ستائي
اصول د اشتهار دې، اصول د اشتهار دې

کبیر ستوری لیکنه کې تل دا اصول ساتي
اصول ته وفا دار دې ، اصول ته وفا دار دې

ذهـني اوښـتون

يو سـوچ و ، اوده شوی چپرته جـبـل پـه اتـکـړو کـې
راپـاځـېـدو د خـوبـه پـه سـندرو او نـغـمـو کـې

مسکی شـو راتـه وي ويـل چې رښتيا سوچ ازاد شوی
کـه غـــړ د ازادی دی پـــه شـرنـګـار د زلـونـو کـې

ازاد يـم پـيـدا شـــوی ازادی باـنـدې مـيـن يـم
ازاد مـې طبيت[1] دې خـوشال نـه يـم پـابـنـدو کـې

مـا غـوږ کـې ورتـه وويـــل ازادي د هـر چـا حـق دې
خـو دې ته هم پـکـار دي اوښـتـون غـلام ذهـنـو کـې

غـلام ذهـن خو نور د غـلامی خلاصـيـد ل غـواړي
د ذهـــن اوښـــتـون دې پـــيـدا شـوی اولـسو کـې

ازاد سـوچ بـه ازاد وي پـــابـنـدي بـه وي پـــابـنـده
کـبـيـر سـتوري راوړی تا ته زيری پـه شـعـرو کـې

---

۱) خوی

زړونو ته لاړې

په زړه کې راسره ئې که له مخې مې پنا ئې
د خیال په سردرو کې راته خاندې په مسکایې

چې ته ئې کړې پیدا ، زه خدای په تا باندې مین کړم
دا زه خو یم د ستا که ته زما نه ئې د چا ئې

د زړه نه زړه ته لار شته په دې هر څوک خو پوهیږي
چې زه وایم د ستا یم ته به هم وائې زما ئې

چې ستوري د اسمان ټول په تعظیم در ته ولاړ دي
قسم دی ملکه ته د رنګونو د ښکلا ئې

وار

د پلار نیکه وار تپر شو، وار زمونږه د پښتو دی
ورکړو که یو نه شو، ضرورت د یو کېدو دی

دوخت سره به ځو یا به وخت ځانه سره بیایو
دوخت سره که ځونو زیاتې وخت د خوځېدو دی

که وخت ځان سره بیایو نو د ننګ توره راواخلې
چې وخت ځان سره بیائې دا خو کار د ننګیالو دی

میراث د ننګ غیرت چې د نیکونو دی راپاتې
دا وخت ځان سره بیایو وخت د وخت د بدلېدو دی

چې ستوری د سبا د خپلواک ژوند دی راختلی
د خپل ملک جوړېدو ته وخت راغلې د جرګو دی

د باچا خان لار

فکرونه مې ګلونه شول په قام به ئې شیندم
خیالونه مې سازونه شول نغمې د ژوند ، وهم

خوږه قامي نغمه مې شروع کړېده د سولې
له زور، زور پیدا کېږي په زور کلي نه کوم

د زړه د مینې جوش دی که د عقل دلیلونه
چې زور نه مې نفرت دی سر له سولې ځاروم

سور پوښ یم ستوری وایي سرې جامې مې دي اغوستې
په لار د باچا خان به قدم ږدم مخکې به ځم

قناعت

یوه هیله چې سر شي بله هیله شي پیدا
دې هیلو د انسان ته حد ټاکلی نه دی چا

دا هیلې نه خلاصیږي نا پایانه سلسله ده
یوازې قناعت دی د دې هیلو انتها

قانع چې انسان نه شي همیشه به سرګردان وي
ګالي به کړاوونه مندې تړې هرې خوا

دا ستوری خو قانع دې نور څه نه غواړي له خدایه
صرف یو موټی اباده او ازاده پښتونخوا

نوی ملالی

ځان دې سپېلنی که ! زار د خپلې پښتونخوا نه شه
ای پښتنې پیغلې د پښتو د باغ باغوانه شه

دا پښتنه خاوره د وخت نوې ملالی غواړي
جوړ کړه یو لښکر د پیغلو مخکې ئې روانه شه

وخت نه ایسار پرې قافلې د ژوند روانې دې
درومه د منزل په لور ډیوه بله روښانه شه

ستوری به کیسې ستا د مېړانې او غیرت کوي
پورته که جنډه د پښتون جګه تر اسمانه شه

ادب

ادب ځان پرست نه دی چې تش خپل خدمت کوي
ټولنې د خدمت نه ادب ځان نه بېلوي

ادب، ادب د پاره هسې تور دی پرې لګیږي
د عقل او منطق اصول د تور مخ تووي

قانون کې د منطق نه شته دی دا کله کېدای شي
هدف او وسیله چې د ادب نه جوړوي

ادب خو وسیله ده په خدمت کې د هدف
هدف ته د ورتللو لاره د عقل رښوي[1]

ادب چې وسیله د پښتنو د ابادۍ شي
دا ستوري له اسمانه پرې ګلونه وروي

---

۱) رڼا کوي

سباوون

مـورِ پښتانه يـو ، پـښتـو ژبـه او قـانـون دی زمـورِ
پـه پـښتـو چـارې سـمـوو پـښتـو ژوندون دی زمـورِ

پـېژنـد ګلـوي د هـر يـو قـام پـه ژبـه او دود کـېږي
چې پـښتو وايي ، او پښتو کوي پـښتـون دی زمورِ

په تش نسب بې له پـښتو ، پـښتون کـېدای کله شي
پـښتـانه تل وايـي پـښتـو سره تـړون دی زمـورِ

پـښتونولي د ژوند بنسټ دې ستـوری وايي په جار
د ژونـد تـيـارو کې پښتـونوالـه سبـاوون دی زمورِ

د وطن ډاګونه

دا مـيـنه تـش سـتا نه ده، ټـول جـهان پـه مـينه پايي
زما هـم زړه مـيـن دي ، چې د عـشق سـنـدرې وايـي

د ژونـد د ګرڼګونو او تـکـلـيـفـونـو بـې پـروايـم
دا مينه ده چې سم مـې سربـازې مـيـدان تـه بـيـايـي

پـښـتـون يـمـه مـلـګـرو زمـا مـيـنه پـښـتـنه ده
خـيـالـونـه بـه مـې تـل د خـپـل وطن ډاګونه ستايي

جذ به د قـامـولـې چې پښتونخوا کې پـاربـدلې
نو تا ته کـښـا ستل سـتـورې په کور کې کـلـه ښا يـي

خندا او ژړا

ما پته لګولې ، ژړا مشره له خندا ده[1]
دا مشره د رقیب ده، خو دا کشره یې زما ده

ژړا نه مې زړه تور دی مبارک دې شي رقیب ته
ژوند ښه دی په خندا کې چې خوښي او خوشحالتیا ده

ما شوم چې چېرې وشي لومړی ژاړي وروسته خاندي
ژړا ښکاري نسلي خو خندا زده کړه له د نیا ده

خند ېړه راته خانده چې د ژوند ستوری روښان شي
خندا چې پکې نه وي د ژوند ون خونه تالا ده

---

۱) دا پته ما ته د ودې د ساپوهنې سربېره زما د لمسي پوهیال ستوری د پوهنې ځارنې په لړ کې لګېدلې ده. پوهیال ستوری په ۱۹۹۸/ ۳/ ۱۱نېټه زېږېدلی تر دې میاشتو پورې ئې وچه ژړا کوله چې اوښکې ورسره بدرګه نه وي، ورسته د دې میاشتو د ژړا سره اوښکې بدرګه شوې او په همدې وخت کې په مسکا چې د خندا لمړنی ښه ده پیل وکړه، ددې ځارنې په ترڅ کې دا خبره تائید شوه چې ژړا نه یوازې د خندا نه مشره ده بلکه په ډېره اندازه سره پیدا اینستي (یا نسلي) او خندا د زده کړې په بنسټ منځ ته راځي

خپل دود

پښتانه هر چیرې خپل دود ، عزت او پت ساتې
د سر په بیه د خپل قام وطن عظمت ساتې

د باچا خان سیاسي بچي کۀ ډېر ټولي ټولي دي
بیرغ د سولې خو یې هر ټولې اوچت ساتې

ګډه یې ژبه ګډ تاریخ دی ببلیدی کله شي
پښتونولې ئې د اولس ملي وحدت ساتې

خیر دی کۀ ډلې ببلي ببلي نظریه یوه ده
ټول قام پرست خو د پښتو شان او شوکت ساتې

رقیبه چېرته به پټېږي پښتونخوا جوړېږي
ستوری د شپې تورو تیارو کې رون مالت ساتې

ښکلا پرست

څومره مزه چې ساقی ستا په شونډو سره کې شته دی
دومره مزه کله د میو په پیالو کی شته دی

ښکلا پرست یم ساقی تش دا ستا لیدو ته درځم
د ښکلا زور دی د مسکا مستو شیبو کې شته دی

ما ته د شونډو شربت راکه پیمانې نه غواړم
عشق کې ثواب د مینی تندی ماتوو کې شته دی

میخانه وتړه راځه د ګودر غاړې ته ځو
نشه د میو خو کونړ د سیند اوبو کې شته دی

هلته حجری د پښتنو په ټنګ ټکور تودی دی
دقام د مینی جوش د ستوری ترانو کې شته دی

د ژوندون څراغ

زه پښتون زلمی یم پښتنې مور نه پیدا یمه
مینه کې د ښکلو زه مین په پښتونخوا یمه

ما پښتو کول د پښتنې مور نه زده کړي دي
پت یمه، ښېګړه یمه، تورە او وفا یمه

مینه پښتنه مې په ځوانۍ باندې راغلې ده
ځکه د قام مینه کې تکلیف نه بې پروا یمه

ما تورو تیارو کې د ژوندون څراغ بل کړی دي
اوسمه په غرونو کې د غرو د سر رڼا یمه

قام ته مې د سولې ازادۍ پیغام راوړی دې
زیری د ژوندون یم رڼا ستوری د سبا یمه

سر ټيټي مشر

د هغه مشر سر ټيټ دی نه جګيږي
چې د خپل اولس په ژبه نه پوهيږي

چې د خپل کلتور او ژبې نه پردی وي
د اسې مشر د قام کله پکار ږي

د سر ټيټ مشر پسې مه ځه پښتونه
د هغه سر چې ټيټيږي ستا ټيټيږي

ستا شمله د اسمان ستورو ته رسيږي
ټيټ سر کله دې شملې سره جوړيږي

د مینې افتخار

ربنتیا چې ملکه ئې د رنګونو د ښکلا
ښکلا ته دې سجده کړی ښکلاګانې د دنیا

ښایست دی د مینو د زړه مینه تودوی
د سرو ګلونو څانګې ته په برخه ئی د چا

د سر په بیه اخلم ستا د مینې افتخار
باقی به څومره نور شم راته ووایه صفا

دا ستوری کړی پوښتنه درنه غواړی اجازه
دا ته د ګل په رنګ ئی؟ که ګل رنګ اخستی ستا

قوت

چې څاڅکي څاڅکي یو ځای شي غټ سیند شي جوړولی
یـــووالـــي کـــې د بـــروالـــی د قـــوت دی مـــا لـــیدلی

یـــو کـــنډکـــی خـــو کـــمزوری وي په لـــږ څه زور ماتېږي
ګـــډی د کـــنډکـــو څـــوک اســـانـــه نـــه شـــي ماتولی

وحـدت چې د مـوټـر پـرزو کې وي نـو حـرکـت کـړي
مـوټـر پـرزې پـرزې کـه بـیـا خـونـه شـي خـوزېـدلی

که غـواړې تـرقـي ستوری د قـام د وحـدت غـم خـوره
ټـوټـې ټـوټـې چې قـام وي خـپل ژوند نه شي سمولی

د سـوچ ازادي

په سـوله او وروروليـ کـه مې سر لاړ شي لاړ دي شي
د سـوچ پـه ازادیـ کـه مـې سـر لاړ شـي لاړ دي شـي

ازاد يـم پـيـدا شـوی ازديـ بـانـدې مـې نـنـګ دی
د قـام پـه خپـلواکیـ کـه مې سر لاړ شي لاړ شي دي شي

پښتو ته خدای پيدا کړم پښتـونـواله مې ژوندون دي
د ژونـد پـه سـوکالـيـ کـه مې سر لاړ شي لاړ دي شي

د زړه د مـيـنې جوش دي ځکه سـتـوری په جـار وائي
پـه قـام او قـامـولـيـ کـه مـې سـر لاړ شـي دي شـي

د قـــام ننګ

مـطرب يـمه د سـولې مست د خپل رباب په شرنګ يم
سـولـــه مـــې نـــارا ده او د جـنګ سـره په جـنګ يـم

زه د بـــاچـا خـان د سـور پـوښـانـو دود ساتـلـی شم
لاره مـــې پـښـتـو ده د پـښـتـو د لار پـــتـــنـګ يـم

زه قـلـــم نـه تـــوره جـوړوم، تـــوره تـرې غـــوارم مـه
تـــوره د قـلـم پـــه لاس ولاړ د قـــام پـــه نـــنـګ يـم

زه جـنـډه د سـولـې پـه اسـمـان کـې رپـــول غـــوارم
سـتـوری د ژونـــدون يـم او د سـولـې په رنګ رنګ يم

جګې شملې

پښتون کړم خدای پیدا او په پښتو باندې مین شوم
د ښکلې پښتونخوا په سردرو باندې مین شوم

پېژند چې مې د قام پکې ځلېږي په نړۍ کې
د ننګ جګو شملو قامي جامو باندې مین شوم

کوي چې پښتانه پکې د خپل مېلمه پالنه
د قام اولس دیرو او په حجرو باندې مین شوم

پښتو به تل کوم او پښتونواله به ساتم
ستوری د پښتو یم په جرګو باندې مین شوم

د ژوند بازار

د ژونـد ون بـازار چـلـبـړي پـه عـرضه او تـقـاضـا
ارزښـت کـم د هغـه څـه وي چـې د څـه نـه وي اړتـيـا

ضـرورت دا يـجـاد مـورده ضـرورت چې شي پـيـدا
سـړی ګـرځـي لـټـوي ئې په هـر لـوري پـه هـر خـوا

چـې ټـوټـې ټـوټـې وجـود وي پـکې نـه او سـبـړي سا
سا بـه هـلـه پـکې او سي چې پـيـوند شي ټـوټـې بـيـا

د قـامـي وحـدت د لارې بـه لـټـون کـړي خـامـخـا
ستوری ژونـد که د پت غوا ړي او د قام خپل پرمختيا

خیالي نړۍ

د انسان د دماغ کله دا خطا ده
دا خیالي نړۍ خو هم رښتیا پیدا ده

د یوه موجود ارخونه متضاد دي
حقیقي نړۍ مادي، خیالي مانا ده

حقیقي نړۍ کې قید او پابندي شته
دا خیالي نړۍ د قیده بې پروا ده

ازادۍ که پابندي وه ستوری وائي
ما ستا یلې خپله بڼکلې پښتونخوا ده

د ســولې جايزه

ښـادي چې د قـامي وحدت مې خيال کې ځـنګـېـد لـه
نـغـمـه د نـوي ژونـد د پـښـتـونـوالـي غـږېـدلـه

غوټـی وي پـه بـاغـونـو کې د ګلـو غـوړېـدلـې
بلبلـو تـرانـه قـامـي پـه خـونـد ورتـه ويـلـه

نـفـاق وه کـډه کـړې ورورولـي وه پښـتـون قام کې
جـنـت کـې خـوشحـالـي د بـاچـاخان ارواکـولـه

لـيـکـوال، هـنـرمـنـدان او شـاعـران وو جرګه شوي
د ســولـې جـايـزه د ستـوري شـعـر تـرې وګټـلـه

ښکلا

یو زوړ د مینې سوچ دي خاطره ده د ګلونو
که نوې نندارې ده د ګلونو د رنګونو

اظهار مې دي د مینې خاطره که نندارې ده
په دواړو کې ښکلا ده صرف تو پیر دي د وختونو

د وخت سره به ځمه یا به وخت ځان سره بیایم
مرام ته نه رسېږي څوک په کټ کې په خوبونو

سوچونه پښتني ستوری عمل جامو کې نغاړه
عمل چې پکې نه وي هسې نه شي په سوچونو

د خټو کور

زه په حجرو کې يم لوي شي ټنګ ټکور خوښوم
د فن په غيږ کې د ادب او سياست شور خوښوم

وروري منم غلامي نه منم په جار وايمه
د وروروليِ جذبه په زړه کې لور په لور خوښوم

د بل په متو کې لوئېږم هډو لوئ دي نه شم
پښتون ځلمي يم زه د خپلو متو زور خوښوم

قام په سياسي ، ثقافتي پيژند سينګار غواړمه
زړه او دماغ کې د پښتو د مينې اور خوښوم

د پرديسيِ د ژوند مانيِ کې ګلان کله کرم
زه کښير ستوريد وطن د خټو کور خوښوم

د مـیو یارانه

ســاقـي راځـه زمـونـږ په چـم کې میـخـانـه جـوړه کـړه
یـوه چـنـه پـکـې د مـیـنـې مسـتـانـه جـوړه کـړه

چـنـه د مینې په نغـمو او ټـنـګ ټـکـور ګـرمـه کـړه
د ځـــان مـــیـن تـــه د درتـلـو بـــهـــانـه جـوړه کـړه

شیخ ته هم نغده اوس رسېږي نسیـا نـه غـواړي نـور
پـــتـه ئـــې کـلـــي کـې د مـیـو یـارانـه جـــوړه کـړه

کـه مـیـخـانـې تـه چـېـرې راغی خیر دی مـه ئـې شړه
غـتـه پـیـالـــه ورتـه د مـیـو جـانـــانـه جـــوړه کـړه

ستوری ځوانې په نشه مست دی تش ګپ شپ ته درځي
ورتـه د سرو شونـډو شربـت نه پـیـمانـه جـوړه کـړه

ښکلی تماشه

د خیاله جوړه شوې نغاره فکر وهله
څه ښکلې تماشا وه تماشائی ما کوله

بلبلې د باغونو نه ګډا ته وی راغلی
ساقی د بنګ پیاله لاس کې هر چا ته ورکوله

راجمع و رنګونه د ښکلا مسابقه وه
ښکلا د قاموليِ د ښایست میره[1] وختله

د ستورو مشالونه لګیدلی و اسمان کې
رڼا د پښتونوالې ئی هر خواته خورولې

میره: مشره

د ژوند سردرې

که ګلان وکړی د ژوند د سردرو په څوکو
زه به ئې سیل لره درځم د جګو غرو په څوکو

چې طبیعی[1] ښایست دی وران نشی سینګار مه کوه
پیوی دی خیر دی چې ځنګیږی د کمځو په څوکو

که چا خبر دی د راتلو زمونږ مالت ته راوړ
لار به جارو کړم ستا د پاره د بڼو په څوکو

چې دی نظر د تورو سترګو د نظره نه شی
د نظر ماتی اور به بل کړم سپیلنو په څوکو

مینه د زړه خبره ده، د زور قانون نه منی
ستوری ګواه[2] دی مینه نه شی د برچو[3] په څوکو

---

۱) قدرتی ، ساده ۲) شاهد ۳) نیزو

د يـــار مـــسکا

طبيـــبه ځـه پـــازه [1] دې کـلـه پـه دوا کـې شـتـه دې
رنـځـور د مـيـنې ته درمل د يار مسکا کـې شـتـه دې

ښـکـلا بـنـيـاد د مـيـنـتوب ده ښکلي مـيـنـه غـوارم
د مـيـنې کـور کـلی د ښکلو په ښـکـلا کـې شـتـه دې

ښـــکـلا پـــرســـت ځـلـه يـورپ او امـريـکا لـمـوي
د ښکلا زور خو دنګو غرو د پښتونخوا کې شـتـه دې

د سـيـنـد اوبـــو کـــې ئـــې نـشـه د ازادۍ پـرتـه ده
د نـــنـــګ وړانـــګـــی ئې د ســتـورو په رڼا کې شته دې

---

۱) اغېزه ، تاثير ، اثر

د وطن مینه

په هغه مین پکار دی افتخار
چې په مینه د وطن کړی خپل سر زار

د بخت ستوری ئی ځلیږی په اسمان کې
چې څوک ولری د خپل وطن اختیار

مینې

خدای دې تا کاندی مین چې ماته نه وی
ددی ښکلو د یاری نه لاس په سره شه

چې د شپې ستوری راخښځی راته وائی
که مین ئی نو د یار غښږی ته ورشه

د پښتنو انا

پريکړه پاس د پښتونخوا شوه خوشحالي شوه
د قامونو سره جوړه مو سيالي شوه

زرغونې انا تکرې خپل ورپه سر کړ
چې انا د پښتنو نسيم ولي شوه

د مېرويس نيکه پتکی د افضل خان شو
چې ئې غږ د پښتونخوا رښتينولي شوه

د پښتون د اقبال ستوری به ځليږي
چې ژوندۍ پکې پښتو پښتونولي شوه

د قلم توره

پـــتـــمـن ژونـــد ګـــوره فـــولاد پـــه تـــوره نـــه شـــي
قـــلـــم واخـــلـــــه د قـــلـــم پـــه تـــوره ښـــه شـــي

د فـــولاد تـــوره کـــه هـــر څـــومـــره تـــپـره شـــي
يـــا بـــه وژنـــي يـــا بـــه مـــري نـــودا بـــه څـــه شـــي

پـــه زور کـــلـــي کـــلـــه کـــــپـــري دا مـــــتـــل دی
اخـــــر نـــا چـــار د ســـولـــې پـــــه لار تـــلـــه شـــي

د بـــخـــت ستوری ئې تـــيـــاره نـــه وي نـــو څـــه وي؟
چـــې د چـــا د ورور عـــــزيـــز ســـره پـــتـــنـــه شـــي

پیژند

پیژند د هر شی په توپیر او پرتلو[1] کې ګوری
د ازادۍ او از شرنګا د زلونو کې ګوری

قامي شاعر د میخانې دروازه نه ټکوی
نشه دمیو یئ د خپل وطن اوبو کې ګوری

دود دې ورپاتې د ساقی او میخانې ادب کې
ځکه ئې یاد د شعر فن په سلسلو کې ګوری

د تورو زلفو په خیالونو شاعر مه ګرموی[2]
تمه د حوروهم د شیخ اوږدو سجدو کې ګوری

زه ورته نیمه شپه د ستورو په رڼا کې ورځم
ټنګ او ټکور چیرې د بړو د پښتنو کې ګوری

---

۱) پرتله: مقایسه
۲) ګرموی : ملامتوی ، پرکوی

د نفـاق رنځ

اوس کـه خـپـل جـنـت وطـن کـې بـې وطن يـم
خـو اخـر ددې وطـن اصـلـی څـښـتـن يـم

د نـفـاق رنـځ راکـې ګـډ دی نـاتـوان يـم
کـه يـو ځـل پـه اتـفـاق شـم تـوانـمـن يـم

د نـفـاق درنـځ لـه درده کـه زه روغ شـم
بـيـا مـې ګـوره چـې د خـپـل وطن واکـمـن يـم

د غـاټـول د ګـل پـه بـوی کـې يـم لـوی شـوی
پـروت ددنـګـو دنـګـو غـرونـو پـه لـمـن يـم

سـاه مـې واخـلـه خـو پـښـتـو رانـه وانـه خـلـی
زه پـښـتـون يـم پـه پـښـتـو بـانـدې پـتـمـن يـم

کـه زمـا سـتـوری پـه قـبـر چـيـرې راشـی
پـه پـښـتـو راتـه دوعـا کـړه پـری مـيـن يـم

د مینې دود

بینا سترګې به څه کړم چې لیدل نه دي روا
دامه وایه چې بنکلو ته کتل نه دي روا

چې سترګې خدای راکړي نو د یار مخ ته به ګورم
د مستو سترګو جنګ کې په شا تلل نه دي روا

منکر چې په کتو وي دا پخپله لوی ګناه ده
رښتینی مسلمان ته دروغ ویل نه دی روا

چې مینه پښتنه شي ننګ پښتو ورسره مل شي
پښتون ته له پښتو نه، تبر بدل نه روا

د بنکلی پښتونخوا نه ستوری سترګې بل خوانه کړي
مین ته دود د مینې ماتول نه دي روا

قضاوت

قضاوت خلکه د ګټو دی بازار
یو ته ښکاري سپېره ډاک بل ته ګلزار

یو ځای ښه بل ځای د بد په نوم یادیږي
ښه او بد دي د انسان د وجدان کار

تو پیر هم شته د ټولنو په وجدان کې
یو کې وي سړی شاهکار بل کې غدار

حیقیقت هم نسبتی[1] دې ستوری وائي
بېل بېل دي د هر انسان ذهني معیار

---

۱) (Relative) د فلسفی لفظ یا استلا (اصطلاح) او قطعی (Absolute) ضد دی

ډېره

خـــوشـــبـــويـــي چـــې دي د زلـــفـــو راخـــوره شـــوه
د ګـلـــونـــو خـــوشـــبـــويـــې صـــــدقـــه شـــوه

بـــلـــبـــلان بـــه زيـــاتـــي څـــه کـــوي پـــه بـــاغ کـــې
بـــس دا ســـتـــا څـــنـــو اوربـــل کـــې ئـــې ډېـــره شـــوه

پـــتـــنـــګـــانـــو ســـر تـــه هـــم دې الله خـــيـــر کـــړي
چې ډېـــوه د ښـــکـــلـــي مـــخ دي ورښـــکـــاره شـــوه

تـــا چـــې رنـــګ د پـــښـــتـــونـــوالـــي عـــشـــق تـــه ورکـــړ
پـــښـــتـــنـــه مـــيـــنـــه مـــې لا پـــســـې تـــوده شـــوه

چـــې دي ســـتـــوری د ټـــکـــري پـــه ســـر ځـــلـــيـــږي
نـــو پـــه زړه د رقـــيـــبـــانـــو بـــانـــدې شـــپـــه شـــوه

عشق

دوام د انسانیت دی عشق انسان ته دي روا
په سپینو لبچو خوب پکې جانان ته دی روا

روا او ناروا څه دي دا حکم د وجدان[1] دی
انسان ته دي روا چې څه وجدان ته دي روا

وجدان خو د مین پابندي نه لګي په عشق
بس دا وايي چې عشق خو ټول جهان ته دی روا

په عشق کې د وطن که دي قامي وحدت ارمان وي
نو څه مه ایسار په کار ارمان ته دی روا

نظر د قامولی ته ستوری ځواک د عمل ورکه
د قام د مینې حس خو زور او ځوان ته دی روا

---

۱) وجدان یا اخلاقي زه په انسان کې یو قوت دی چې په ښو، بدو، روا او ناروا قضاوت کوي او څاري ئې

د قسمت ویش

زاهده ما عشق په دنیا تا په عقبا اخیستی
نصیب دې خپل دی ما په لاس او تا نیسیا اخستی

ته حوري ستا یه، زه به ستا یم د وطن سردرې
د قسمت ویش کی خو ما عشق د پښتونخوا اخستی

هره دره کی ښکلا ګانو غزونې کړی
ښکلا پرست یم حفاظت می د ښکلا اخستی

چې د قامی وحدت غوټی[1] مې په چمن کی ګل شی
د باچا خان په پل قدم مې بر ملا اخستی

د شپې چې ستوری پښتونخوا د سردرو پیره کړی
د مینی زور دی د وطن غم او سودا اخستی

---

۱) کلی.

ګلشن

پاکه ربه جوړ زمونږه کړه وطن
پښتانه په خپل وطن کې کړه واکمن

چې د شپې پښتون بلبل پکې چغیږی
راکه ستورو د اسمان لاندې ګلشن

د عشق اور

بورا څه کول په بوټی کې د ګل
چې د عشق په اور ستی نه وی ګوګل

چې ئې حس د قام د مینې زړه کی نه وای
د پښتون سره به نه وای ستوری مل

د منطق اصول

کـه څـوک راوړي چـا تـه يـار د مـرګ خـبـر
زړه غـمـجـن شـي پـه ژړا بـانـدې شـي سـر

پـه کـوتـک بـانـدې وهـلـی دې چـا نـه دی
دا خـو تـش د خـولـې خـبـرې دي اثـر

پـه روزنـه کـې کـوتـک ځينې کـار مـه اخـله
د مـنـطـق اصـول ډېـر زيـات دې مـعـتـبـر

کـه غـزا کـړې د قـلـم تـوره راواخـلـه
ستـوری دا د غـزا شـکـل دی بـهـتـر

فن د مينې

فن د مينې د ژوند راز دی پوهيدل دي
جام د مي د ساقي په خاطر څښل دي

ځواک د مينې مختلف رنګونه نيسي
ټولنيز رنګ ئې له يار سر ځارول دي

ګرانښت هم د مينې رنګ دې بل څه ندي
د ښکلا او ښايستونو پت پاللدي

انرژي د کار اصلي رنګ دي د مينې
د جانان په لور ګامونه اخستل دي

تولیدي خوي لري مينه ستوری وائي
مينه ځيرنده د ژوند ده ، ژوند ساتل دي

د ځواک چینه

ورکړه وخت د کار د پاره، چې بری او پرمختیا ده
ورکړه وخت د سوچ د پاره، چې د ځواک چینه اشنا ده

ورکړه وخت لوبو د پاره، پکې پروت د ځوانۍ رازدی
ورکړه وخت د لوست د پاره، چې د پوهی دا بینا ده

ورکړه وخت مهربانۍ ته، دا خوپیل د خوشحالۍ دی
ورکړه وخت خوښۍ د پاره، خوشحالي د روح غذا ده

ورکړه وخت د خیال د پاره، چې د هسک ستورو ته لار ده
ورکړه وخت مینې د پاره، چې د ژوند خوښي رښتیا ده

پیدایښتی حق

ازادۍ نه پرته ژوند خو بې مانان دې
ازادي پیدایښتي حق د هر چا دې

څوک غلام د موره نه دی پیدا شوی
ستورک وایي چې انسان ازاد پیدا دې

ژبه

د هر قام پیژند په ژبه او کلتور کېږي
په برکت د ژبې قام هسک شی جګېږي

چې په خپله پښتو ژبه نه په وهېږي
ستوری څه پرې که په سل ژبو ګړېږي

بدی

د اخپل چې څوک خپل نکړی پردی کله خپلوی شی
انسان چې شی بد بخته خپل کلتور[1] ځنی پردی شی

بس خپل پیژند ئې[2] ورک شی د بل نشی اخستی
په داسی رنځ اخته شی چې نه مری نه رغېدی شی

د قام نه پکار ېږی چې په خپله ژبه ګونګ وی
که زر ژبې ئی زده وی په زر ژبو ګړیدی شی

په داسی لیکوالانو او پوهانو ستوری څه
خدمت چې د پردی ژبی کړی خپلی ته بدې شی

---

۱) کلچر، رواج
۲) تشخص

د سولې جنډه

سر نه تېرېږي پښتون خوا نه تېربدلی نه شي
زړه مې پښتون دی بې پښتو ژوندون کولی نه شي

یا به واک خپل کړي د وطن یا به تر پ ځان ځار کړي
په خپل وطن کې اقتدار پردی زغملی نه شي

جنډه د سولې جګوي د باچا خان بچي دي
وروروڼو غواړي غلامي د چا منلی نه شي

د ستوري زړه کې اتفاق د پښتنو ارمان دي
بې اتفاقه قام منزل ته رسېدلی نه شي

خیال

چې خیال مې و څېړلو رانېکاره ئې شوه مانا
بېلګه ده د جنت خدای پیدا کړی په دنیا

څه چې په جنت کې چا ستائیلي دي
خیال کې مې هماغه څه لیدلي دي
هیلې د زړه سر ته رسېدلي دي

خیال کې که څه غواړی در سېرې خامخا
بېلګه ده د جنت خدای پیدا کړی په دنیا

خیال کې د جانان کور ته ورتلی شی
خیال کې جانان کور ته راوستلی شي
خیال کې جانان غېږ کې لوبولی شي

خیال کې پابندي نه شته په مینه د هیڅ
بېلګه ده د جنت خدای پیدا کړی په دنیا

خیال کې د (وخت ځای) تاثیر کمېږي
خیال کې وخت په څټ او مخته کېږي
خیال کې هر چېرې سړی رسېږي

خیال کې ازادي ده دا د ستوری ده ویناد
بېلګه ده د جنت خدای پیدا کړی په دنیا

هسې خواري

هسې خواري کړي زده کولی نشي
کارغه د زرکې په شان تللی نشي

ځان به تباه کړي که ترې لاندې وتو
مېړۍ د اوښ هومره بار ورلی نشي

تش په وزرو الوتل خونه دې
د چرګ وزر شته الوتلې نشي

ستوری پښتون به ئی څوک څنګ وګنی
څوک چې پښتون ځانته ویلی نشي

نغاري

پيروني پريوتلي[1] تلپ راوختلپ
نور به رڼا وي مالت ترورمي ووتلپ

ريباره وايه ورته رقيب دي وبايللپ
د جانان غږپ ته ځه جانان دي وګتلپ

قامي وحدت جوړپږي نغاري ووهلپ
د سبا ستوری خپژي غمازه کيوتلپ

---

۱) پير وني او تلي : پيروني يو ډول جګ (ګڼ) ستوری دي تلي هم ستوري دي په پخوا وختونو کې چې ساعتونه نه وو ستوري په کليوالو سيمو (منطقو) کې د وخت د معلومولو وسيله وه، په تېره بيا د روژې په مياشت کې پيروني پريوتلي ، تلی راوختلی د چر بانګ يا پيشنمي د وخت ناره وه چې د پشنمي په مهال کې به پيروني ستوري پريوتلې اوتلی ستوري به راختل.

يو تبر

يـــــو ورځـــــې چـــــا ويـــــلـــــي
چـــــې اســـــمـــان تـــــه مـــــې کـــــتـــلـــــي

يـــــوه غـــــټـــه وريـــــځـــــه راغـــــلـــــه
دوه وړې ئـــــې ښـــــکـــــلـــــولـــــي

وړې شـــــوې غـــــټـــې کـــــې غـــــيـــــبـــي
بـــــيـــا مـــــې ســـــتـــرګـــــو نـــــه لـــيـــدلـــــي

ښـــــکـــاړې دا وي کـــــوچـــــنـــي وريـــځـــي
چـــــې د مـــــور غـــــيـــــړې تـــــه تـــلـــــي

د يـــــو کـــــور د يـــــو تـــبـــر وي
د يـــــو بـــــل نـــــه ځـــــار بـــــدلـــــې

چـــې هـــم جـــنـــس وي جـــمـــع کـــيـــږي
عـــــقـــــل کـــلـــــه بـــــيـــلـــــولـــــي

پـــــه ويـــــشـــــلـــــي پـــــښـــتـــون قـــــام ئـــــې
ســـــتـــوري اوښـــــکـــــې تـــــويـــــولـــــې

د تـــندي خالونه

پـــه تـــورو څـنـــو ئـــې پـــراتـــه و پـــرديـــسي ګردونه
په خولـه ئې هـېڅ نه ويل سترګو ئې ويـــل حـالـونـه

د تـورور سترګـو اشـارو کـې راتـه ووِيـل غـلـــی
چـــې پـــه پـــردي مـــالـــت کـې نـه کـــرمـــه زه ګـلـونـه

کـــه د وطـــن د ازادی شـــمـــال پـــه مـــا ولـــګـــېد
پـه کـچـماچـو [1] به بيا تـازه کړم د تـنـدي خـالـونـه

ســتورو رڼـا کـې د بـلـی د کـشـمـالـو ورِمـو کـــې
د مـيـمـونـــې او د رخـــانـــی بـــه درته کـړم نـکـلـونـه

---

۱) يو ډول بوټي دی چې د پوستکي په سر ئې په ستنه چقوي او شنه خالونه پرې ږدي

د مینې اور

رنګ د شونډو دی ټیکری اخستی پور[1] دی
که دا سور رنګ د تودې مینې د اور دی

سور ټیکری دي د سرو شونډو سره لګي
چې د پاسه دي په تورو زلفو خورد ی

شین پرتوګ دي تور کمیس سره مزه کا
چې جوړ کړې پرې پترو د ژوندون شور دی

حاجت نه لري د خال د اښبنودلو
چې سور ټیک دي د تندي د پاسه سور دی

ښایسته ونه په سجده درته پراته دي
چې دي خوی کې د پښتو د ښایست زور دي

ستا په حسن او ښکلا د ستوری ننګ دی
بې ننګي پښتنه مینه کې پیغور دی

---

۱) قرض

د شعر فلسفې

کـه څـوک څـيـړنـه کـړي د شـعر فـلسـفې لـټوي
خـيال او ښـکلا ، مـيـنې، احساس ته به نـغـمې لټوي

خـيال پـه باغـي دنـيا کـې اوسـي پـابـنـدي نـه مـنـي
عـبث خـواري کـوي چـې خـيال ته زلـونې لـټـوي

مـوسيقي وال لـفـظـي انځـور د خيال ته شعر وائي
فـن او هـنـر ورتـه د بـم او زيـر پـردې لـټـوي

سـتوری پښتو پښتونـولي د ساز نغمو کې نـغـاړي
د رباب ټـنګ پـسې د ټـول مـالـت حجـرې لـټـوي

غـيرت

خـدای مـيـن د غـيـرتـمـنـو پـه غـيـرت دی
هـر يـو کـار د غـيـرتـمـنـو عـبـادت دی

پـه وطـن او پـه خـپـل قـام چـې غـيـرت کـانـدی
سـتـوری وائـی چـې پـه بـرخـه ئـی جـنـت دی

خوب

خوب مې ليده چې پښتونخوا جوړيږي
چې ويښ شوم غږ شو په رښتيا جوړيږي

د افضل خان په نارا ننګه وشوه
ملي دپره د خان لالا جوړيږي

چې قرارداد د پښتونخوا ئې پاس کړ
نسيم ولي د قام انا جوړيږي

ارمان د ستوري غوټې وسپړلي
چې ئې غوښته هغه دنيا جوړيږي

د پیژند کړ کېچ

چې لالی مې د سرکار شولو نو کر
د کابل دربار پرې وکړلو اثر

پښتو ئی هېره کړه اوس دا سې ژبه وائی
چې تو پیر پکې نشته د ښځې نر

په دماغ کې د پیژند کړکېچ پیدا دی
دښمن شوی د خپل قام او خپل ټبر

ستوری وائی انتها ئی د ځان مرګ دی
تبا کېږی خو له ځان نه دی خبر

هډ

که نظر دي په ژوند يو د دنيا شي
نو ژوندون د کوچني تخم نه بينا شي

د هر هډ تخم کې وي څو توانونه
په خپل وخت کې رابنکاره او برملا شي

توانونو په بنسټ هډونه بيل شي
د ژوندون د چارو وبش هم منځ ته راشي

يو مثال ددي خبری به کړم وړاندې
چې مې په وه نبه په مقصد او مدعا شي

د هيلې هګۍ که چرګې ته څوک کېږدی
ګلالی نبايسته بچې ترې راپيدا شی

چې لږ لوی شي چرګه پريږدی تری روان شي
د اوبو په ډنډ ورګډ شي په لمبا شی

چرګې هډ ګې چې توان د لمبا نه شته
ډنډ په غاړه وقړ تيږي په غوغا شي

چې يو هډوی دا قانون دی يو ځای کېږی
چې ئی هډ سره شريک نه وی جدا شي

ستوری وائی چې پښتون له يوه هډ دی
د قامی وحدت ګلان به خامخا شي

څه شولو ؟

څوک بت پرست، څوک زر پرست شو خدای پرست څه شولو ؟
ځان پرستان دلـی دلی دي قام پرست څه شولو ؟

درنو حجرونه چې د ټنګ ټکور اواز، نه راځی
هنر مندان او شاعران ادب پرست څه شولو ؟

تورو کارغانو چې د باغ ګلان تالا والا کړل
بنکلی باغونه ئی چې ساتل، بنکلا پرست څه شولو ؟

چې د وطن له ګټو، ګټې د خپل ځان کړی قربان
ستوری ئی هر ځای لټوی وطن پرست څه شولو ؟

خـــوښـــنه او مـــننه

ګڼ شمير ادب پالونکو ملګرو په راډيو، جريدو او ورځ پاڼو کې ځما د شعرونو په هکله په خپرونو او ليکنو زه دي ته و هڅولم چې د ژباړوهنې د نامه لاندې د پوهنيز کتاب د مخه چې زه ئې په ليکلو بوخت يم د شعرونو يو بل کتاب « د قلم توره » د ادب مينه والوته وړاندی کړم. پدې لړ کې زه د پښتو نامتو ليکوال او شاعر د پښتونخوا د پوهنې د ديرې د مشر د پښور راډيو سينر پروډيوسر ښاغلی لالق ذاده لايق، د پښور پوهنتون د اسلاميه کالج استاد او راډيو او تلويزيون د نوميالی وياند ښاغلی اباسين يوسفزي، د پښتو پياوړي ليکوال ښاغلي سر محقيق زلمی هيوادمل، د وحدت دورځپاڼی چلوونکی ښاغلي سيد رحمدل شاه او ښاغلی پريشان داودزی، د دعوت د خپرونی موسئس او موسئول چلوونکی ښاغلی محمد طارق بزګر، د المان غږ راډيو د افغانستان د څانګی پياوړی ملګری ډوکتور سيد موسی صميمی او پتمن ليکوال ښاغلی جمشيد نديم نيازی نه د زړه له کومی خوښنه کوم.د هنر مرګ د قام مرګ دې ژوندي قامونه خپل هنر ژوندی ساتي. دا د ټولو قام پرستو دنده او زمه واری ده چې د پښتو د هنر د ژوندی ساتلو د پاره کار وکړی. د هنر د بڼ د بلبلانو څخه چې خپله د کلونو باغبانی د سختو شرايطو د لاندی کوي او د پښتو د هنر بڼ ئې تازه ساتلی، په تيره بيا د هغه هنرمندانو څخه چې ځما شعرونه خوښ کړيدی. او په راډيو « کلتوری پروګرامونو » کې پخپلو خوږو اوازونو او ښکلې موسيقۍ کې وړاندې کړی دی د زړه د کومی خوښنه کوم. پدې نښتون کې د لاندې هنرمندانو د نومونو يادونه ضرور ګڼم.

ښاغلی استاد رحیم غمزده: د پښتونخوا نامتو هنرمند او شاعر چې پښتو موسیقی ئې په نوی رنګونو، تالونو او په هندی سبک سره غنی کړې ده ډېره ډېره خوښنه.

ښاغلی رضوان منور او ښاغلی شاه ځوان منور چې ځوان استعداد لرونکی روزل شوی (تعلیم یافته) هنرمندان دی چې د خپل پلار د پښتونخوا د مشهور هنرمند خدای (ج) ښلی استاد بادام منور په شان د حجري د مجلس اتلان دي چې د پښتو حجري او دیري په ټنګ ټکور ګرمي ساتی، (رضوان منور ځما د شعرونو لمړنی د موسیقۍ ټرون کړیدې) ډیره ډیره مننه. ښاغلی استاد یار محمد چې نامتو هنرمند دی او د پښتو موسیقۍ د نوښت ګرو، په ډله کې شمیرل کیږي او پدې توګه د پښتو موسیقۍ ته وده ورکوي،(په تیره بیا د غزلونو امیل د داستان په بڼه کې ئې په زړه پورې نوښت دې) ډیره ډیره مننه. همدارازد پښتونخوا د نامتو او خوږ ژبو هنرمندانو هر یو ښاغلی استاد هدایت الله، د ارموني شاهکار ښاغلی استاد شاولی، ښاغلی انور خیال، ښاغلی زلمی غمزده، ښاغلی استاد نواب، ښاغلی بریالی صمدی، ماشومه نازیه اقبال او ماشوم عزیزالرحمن، ښاغلی نورالرحمان، ښاغلی عبدالحمید قندهاری، ښاغلی ګل جان صادق څخه چې اوازونه ئې په زړونو کې لاري جوړوي ډیره ډیره خوښنه.

د ښاغلی ننګیالی، ښاغلی فضل ربی پردیسی، ښاغلی نذیر ګل او ښاغلی استاد صنم څخه چې رباب ئې د ادم خان افسانوی یاد تازه کوی چې ځما د شعرونو د موسیقۍ ښکلی ټرون ئې کړیدې ډیره مننه او هم د هغه هنر مندانو او فنکارانو څخه چې زه تری خبر نه یم چې زما شعرونه ئې ویلی دي او یا مي د قلم څخه پاتی شوي دی.

ډیره خوښنه او همدرانګه ددي کتاب (قلم توره) د موسیقۍ د اولسي کلتوري ماښامي د موسیقۍ طرز جوړونکي او پیاوړي سندرغاړي ښاغلي ماستر علی حیدر چې زما شعرونو ته ئې نوي او په زړه پوري موسیقي جوړه کړی او هم ئې په خپل ښکلي اواز د ماښامي رنګ لا ښکلي کړې دې ډیره ډیره مننه او خوښنه او هم د ځوان هنرمند ښاغلی سیداګل مینا چې د پښتو موسیقۍ د نامتو هنرمند مینا ګل زوي او د ښکلي اواز څښتن دې ډیره مننه کوم.

د پښتو د قامی ادبی جرګي د منلو ملګرو ښاغلی حاجی محمد نادر سرشار، ښاغلی صلاالدین قاضي خیل، ښاغلي نصیر ستوری، ښاغلی عزیز سرشار او د پښتنتو د کلتوری ټولنی د مشر ښاغلی محمد شیرین ګردیوال څخه چې ددي کتاب (د قلم توره) د شعرونو لیک دود ئې کتلی دې او په تیره بیا د ایمل خان ستوری څخه چې دا شعرونه ئې د ښوونځي د سبقونو سره سره په ډیره مینه او خوشحالۍ په خپل کمپوټر لیکلي دی ډیره زیاته خوښنه.

همدغه شان د عبدالبصیر بیدار، نسیم خان ستوری، امیر کروړ ستوری او ننګیالی میرداخیل څخه چې د کتاب د چارو په سمبالښت کې ئې زیار ایستلی دی ډیره مننه.

په درناوی

ډاکتر کبیر ستوری

جرمني

۱ / فبروری /۱۹۹۹



کبیر ستوری د ساینس پوهنځو دکتور (Dr. rer. Nat) دیپلوم سپرد (Diplom Psychology) په مضمون پیشتونو په تبر میرداد خپل چې د پیشتو د یوسټوزو پرکټې پروژې اوړلې. ستوری دلعل محمد خان زوی او د بړۍ پیشتون څوا د کونړ د تغږ په کلي کې په ۱۷/۱/۱۳۲۱ هـ ل کال (۰۶/۰۴/۱۹۴۲ ع) زېږېدلی دی.

ده خپله لومړنۍ زده کړه د خاص کونړ په لومړني شوونځي او په کابل کې د رحمان بابا په لېسه کې او خپله لوړه زده کړه د جرمني د فرانکفورټ، کولن او د ماربورک په پوهنتونونو کې د سپرډنې (Psychology) په څانګه کې، چې فلسفه (Philosophy) سیاسي پوهنه (Pol.Science) او ټولنپوهنه (Sociology) وروسره مل وه، سرته رسولې ده.

ستوری د نړۍ د سپرډانو په ډله کې راځي دی او د ۱۹۷۵ ع کال راهېسې د کرنې د سپرډنې د نړیوالې ټولنې (International Association of Applied Psychology) غړی دی. ستوری د پیشتون سوشل ډیموکراټیک پارټۍ (PSDP) مشر او د دې پارټۍ د بنسټ اېښودونکو مخکښانو څخه دی.

او د شاعرۍ په نړۍ کې ترټولو زیات د پیشتو ادب د پلار اجمل خټک د یې الهام اخیستلی دی. د پیشتنو د یووالي، خپلواکۍ او سوکالۍ دپاره د ده پاچا خان نظریې ژوند وریښلی دی.